بسم الله الرحمن الرحيم

**خبر او تبصره**

# بېرته کورونه د روهينګيا د مسلمانانو د تګ اعلان، درواغ دي؛ دا د دې لپاره يو دام دی چې مسلمانان د زندان په شان کمپونو ته واچوي

## خبر:

بي بي سي د ۲۰۱۹م کال د سپټمبر په ۱۰مه د هغو کليو د سيسټماټيک ويجاړولو رپوټ ورکړ چې د روهينګيا مسلمانان پکې اوسېدل، يو ځای پکې راغلی و چې د کډوالو د بيا ځای پر ځای کولو د کمپ په توګه به ګټه ترې واخستل شي. اعلان شوی چې بېرته راستنېدونکي کډوال به په موقتي توګه تر هغه وخته چې بېرته يې په ميانمار کې خپلو اصلي سيمو ته ځي، په دغو کمپونو کې ژوند کوي. د دغه کار موخه دا ده چې بېرته خپلو سيمو ته د تګ لپاره د دغو مسلمانانو داوطلبي اسانه کړي، لکه څنګه چې په دې وروستيو کې د بنګلدېش دولت په پاليسۍ کې وړاندې شوي.

## تبصره:

هېڅ د حيرانتيا خبره نه ده چې ان يو روهينګيايي هم خپلو سيمو ته د بېرته تګ د داوطلبۍ په په کيسه کې نه دی شوی. د بي بي سي رپوټ خپلو کورونو ته د بېرته تګ د درواغجنو معمالو تر شا فرېب افشا کړ؛ حقيقت خو دا دی چې هلته اوس ډېری هغه کلي نشته چې دوی پکې اوسېدل!

د ميانمار دولت نه يوازې دا چې د وحشت، وژنو او شکنجو په سبب يې دغه کسان له خپلو کورونو نه ايستلو ته اړ کړي او په زور ايستلي وو؛ کلي او کورونه يې د بلډوزر په واسطه په بشپړه توګه له خاورو سره يو کړي. دغه تش په نوم «خودي سيمه» چې د دوی له لوري د کډوالو د بېرته راتګ لپاره موقتاً په پام کې نيول شوې، هم  د ميانمار په يوه ويجاړ شوي کلي کې جوړه شوې.  د ميانمار دولت له دغو خبرو انکار کوي خو له سپوږمکۍ نه اخيستل شوي انځورونه ښيي چې تېره مياشت دلته کلي او کورونه وو خو اوس يې هېڅ درک نه لګي. مسلمان کډوال پوهېږي چې کورونو ته د بېرته تګ خبره يوه ډرامه ده او څوک چې باور پرې کوي، لوده‌ګي کوي.

دوی پوهېږي چې مرگ او شکنجه اوس هم هلته ورته په تمه دي او نه داسې دولت شته چې دوی ته د خوندي اوسېدنځای برابر کړي. پر دې هم سر خلاص دی چې د کډوالو کمپونه په حقیقت کې زندانونه دي، که هلته د دوی کلي او کورونه نه وي پاتې نو په زور به په داسې کورونو کې بندي شي چې د ژوند شرایط پکې ډېر سخت او وېروونکي دي او ازاد ژوند کولو ته به نه پرېښودل کېږي. د بشري حقونو دغه نقض د میانمار د مسلمانانو لپاره یو وېروونکی خوب دی چې خلاصېږي نه. په ورته وخت کې نړیواله ټولنه برما حکومت ته پوره اجازه ورکوي چې د نسل وژنې په دغه پالیسۍ کې د جلاد په توگه خپله دنده بې غمه مخته یوسي.

مسلمان حکام په دغه نړیوال جرم کې شریکان دي؛ دوی خپل پوځونه پرېښې چې کرار ویده وي او وسلې یې زنگ ووهي؛ په داسې حال کې چې هلته له مسلمانو نارینهوو، ښځو او ماشومانو سره وحشت وشو، تاوتریخوال ورسره وشو، شکنجه شول، په دریاب کې غرق شول او په ډېر ظلم ووژل شول. موږ الله سبحانه و تعالی ته دعا کوو چې دغه سیاسي ځنځیرونه وشکوي چې د مسلمانانو پوځونه یې له دې منع کړي چې په روهینگیا کې زموږ اړ او مظلوم وروڼه او خویندې له هغه ظلم او زجر نه وژغوري چې له کلونو راهیسي ورسره کېږي. د خلافت تر چتر لاندې به ربښتینې او مخلصه سیاسي رهبري هېڅکله دغه وضعیت ته اجازه ور نه کړي، نشنلېزم او دغه ناانسانیت - چې روزلی یې دی – به تاریخي له منځه یوسي او زموږ مظلوم وروڼه او خویندې به له دغو ظالمانو خلاص کړي.

الله سبحانه و تعالی فرمايي:

(وَٱقْتُلُوهُمْ حَيْثُ ثَقِفْتُمُوهُمْ وَأَخْرِجُوهُم مِّنْ حَيْثُ أَخْرَجُوكُمْ وَٱلْفِتْنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلْقَتْلِ)

**ژباړه:** « له هغو سره هر چېرې چې مخامخ شوئ، وجنگېږئ، له هغه ځایه یې وباسئ چې تاسو یې ترې ایستلي یئ؛ ځکه که وژل هر څومره بد عمل دی، خو فتنه له هغه څخه هم بده ده ... .» [۲:۱۹۱]

د خلافت په چوکاټ کې د اسلامي سیاست له عملي کولو پرته به یوازې د روهینگیا د مسلمانانو د نورو کورونو د ویجاړېدو، بېځایه کېدو، وژل کېدو او پر دوی د نورو ظلمونو شاهدان وو.

## عمرانه محمد

## د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره